مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۲۶

# د بریا لارې

هره ورځ به مې کور ته سبزي ترې وړله؛ هغه به هم په يوې لاسي ريړۍ (لاس ګاډي ته ورته موټرکـ) کې شنه تازه سبزي خرڅوله؛ د وخت په تېرېدلو مو له علیک سلیک نه خبره تر ګپ شپ ورسېده او ان د یو بل دوستان شو؛ د ده په خبرو کې کله هم ما ته کومه بې ادبي، بې ديني او کم عقلي نه وه ښکاره شوې؛ هر وخت به يې داسي وضعيت او خبرې راسره کولې، چې له مخې يې په ده د يو متدين او مدني انسان ګومان کېده؛ په خبرو خبرو کې مې يوه ورځ ورته وويل: کاش چې ښوونځی دې ويلی وای؛ نن به داسي نه وای؟

ترخه خندا يې وکړه او بيا يې وويل: شکر زه تعليم يافته يم؛ ليسانس لرم!

په حيرانی مې وويل: ليسانس لرې؟

ويې خندل: ولې؟ يقين دې نه راځي؛ له خپل موبايل نه يې د فراغت د ورځې انځورونه راښکاره کړل. د فراغت مراسمو کې يې د ستېج پر سر په يوې شني پټي ليکل شوي و: پروني ماشوم نن ځوان دی او سبا به د ټولني مشر وي!

حيران وم چې دا نو څه عجيبه لوبه ده؛ ومې پوښتل: چې ليسانس يې؛ نو په يوه ريړۍ کې د ښار په منځ کې د سړک په غاړه سبزي ولې خرڅوې؟

هغه وخندل: د وخت خليفه ابوبکر صديق رضي الله عنه هم سوداګري کوله!

په خواشينی مې وويل: خبره مه اړوه! سم حال ووايه؟

هغه وويل: په غربت او يتيمتوب کې مې ښوونځی تر دولسم ولوسته؛ د مور او پلار په هڅوکو (ځمکي خرڅولو) سره مې د اقتصاد پوهنتون او په انلاين توګه کمپيوټر زده کړل؛ خو څه فايده؛ له ليسانس اخيستلو وروسته مې کومه وظيفه و نه موندله؛ د اقتصاد وزارت هر ډول بوستونو ته مې امتحان ورکړ؛ خو کامياب نشوم؛ د ټولو دولتي او غير دولتي اداراتو دروازې مې وټکولې؛ مګر کومه ګټه يې ونکړه او ناکام شوم.

له ليوالتيا او غمجن ليد سره مې وويل: نو بيا؟

بيا له هغي ورځې وروسته سبزي خرڅوم.

ډېر پرې خفه شوم او په ماتو قدمونو کور ته روانېدم، چې ويې ويل: د يوې دولتي وظيفي له پاره مې ازموينه ورکوله؛ له سلو مې ۹۵ نومرې واخيستې؛ خو بيا هم د چارواکو په رضا کامياب نشوم؛ ما شور جوړ کړ؛ کوم مامور ساتونکو ته غږ کړ، چې دا کس بايد وباسئ؛ کله چې سيکورټي (ساتونکو) کشولم؛ يوه راته وويل: په افغانستان کې د بريا لارې هڅې او وړتيا نه وي؛ بلکې زور، رشوت او واسطه؛ ما د همدې کشولو له پاره ۱۰۰۰ ډالره شيريني (رشوت) ورکړی! ما چې دا سپکوالی وليده؛ نو د خپل لاس حلال رزق ګټل مې پرې غوره وبلل.

۲۰۱۸ نومبر

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ